# څنګه ژوند وکړو؟

دنړۍ د پوهانو او ادیبانو دسلګونو ویناوو ژباړې



Ketabton.com

ژباړه او راټولونه : محمود حمیدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژند پاڼه

**نوم: څنګه ژوندوکړو**
**ژباړه اوراټولونه: محمودحمیدزی**
**تایپ اوډیزاین: محمودحمیدزی**
**دپوښتی،وقايې ډزاین:مسلم اڅکزی**
**دځپریدونیټه:۱۴۰۳هـ ل**

دژباړن خپاره سوی اثار

۱په سمندر کی دملغلرو لټون

ټولنیزی ستونزی او دحل لارې یی

دفکرونوجوړښت اوهغوئ ته وده ورکول

۲روڼ سیند

لومړی‌شعرې ټولګه

۳په کایناتو کی دقرآنکریم علمی معجزې

د ذرو څخه درکهکشانونو د اللهﷻ مخلوقات

۴دانسان په بدن کی دقرآن کریم علمی معجزی

دانسان دبن دحجرو څخه درنسجونو دنسجونو څخه درغړو دغړو څخه دربدن پورې: هراړخیزطبی مالومات او دعقدې دلا کروړ کولو درسونه

۵ دالماسو پند

دپښتومتلونو د ویلوځایونه اوعلتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ ژور اندونه

دویمه شعرې ټولګه

۷په ژوند کی دبریالیتوب 50رازونه

۸څنګه ژوند وکړو

دنړۍ دېوهانو او بریالیو وګړو دسلګونوویناوو ژباړه

۹ خوږې خبرې

لنډکی شعرونه او ادبی ټوټی

۱۰ ننګوونکی پوښتنی اوځوابونه

سلګونه طبی،ساینسی،جغرافیی، بیولوژیکی،ذهنی او ټولنیزې پوښتنې.

یادونه:ددې کتاب دچاپ حقوق دژباړن سره خوندي دي،دکتاب همدا پي ډي ایف بڼه بیله بدلونه هرڅوک خپرولی سي دچاپ اوبدلون حق يې څوک نه لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځنګه ژوندوکړو؟

**زه پوره نه يم مګر تل به ريښتنی يم.**

***

**هيڅ وخت خپل ارزښت ديؤ چا د پام را اړولو لپاره مه کښته کوه.**

***

**ناپاکي اوبه د نباتاتو د لويدنې مخ نه سي نيوای، نو اجازه مه ورکوئ منفي خبرې ستاسو پرمختګ ودروي.**

***

**زخمونه جوړيږي مګر دزخمونو جوړيدل داول په شان دکيدو سره ډېر توپير لري.**

***

**هغه چي تاته زما په اړه سل خبرې کوي په خدای ستا عيب ماته هم وايي.**

***

**هيڅ وخت دهغه وګړي دلاسته راوړلو لپاره چي ستاسو اونور په توپير نه پوهيږي هڅه مه کوه.**

**دنورو سره ښه وکړه، داسي يؤځای چي ته يې انتظار نه لري بيرته به درته را وګرځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

که زه تاسو ته ووایم چي زه ښه یم کیدای سي تاسو
ووایاست چي دروا‌غ وایم، مګر که درته ووایم چي زه
ښه نه یم تاسو پوهیږئ چي زه دروا‌غ وایم.

***

که غواړئ چي نور وګړي ستاسو ښه ویونکي واوسي
دنورو وګړو ښه ویونکي واوسئ.

***

درد دي پیاوړی کوي، ژړا دي زړور کوي او مات زړه
دي پوه او عاقل کوي.

***

زه دهغو وګړو څخه چي راباندي ګران دي ډېر بیریږم
ځکه هغوئ هغه وګړي دي چي کولی سي ما غمجن او
ورنځوي.

***

باور وکړئ ځیني دومره پیاوړي دي چي نه وایي زه هم
ستونزې لرم.

***

هیڅ وخت دژوند دزخمونو په اړه چاته شکایت مه کوه،
زخمونه بیله خپله خاونده بل چاته درد نه ورکوي.

***

تانه او مسخري د سپکو ذهنونو لویي وسلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

په کیسه کي یې مه کیږه هغه خبرې چي دشا دخوا درپسي کیږي که ربښتیا وایي دشا دخو نه درپسي کیدي.
***

که چیري محبت د رانیولو شی هم وای بیا مو هم نه سوای کولی هغه رانیسو ځکه پیسې به مونه درلودای.
***

در اوسه هم چي اوس دئ د اخلاقو او ادب څرګندولو دیئو بې ادبه کس پروړاندې دهغه دتحقیرولو ډاډه لاره ده.
***

دا درد لري کله چي په ساعتو کښنئ او دهغو خبر په اړه چي نه سئ کولی وي وایاست فکر کوئ.
***

هغه تخم چي نه غواړي را شین سي هرڅومره چي هغه ته اوبه او لمر ورکړئ یؤازي به لا ډېر ورستیږي.
***

دهغه وګړي دخبرو زخم چي درباندي ګران وي هیڅ وخت نه رغیږي.
***

مینه وه ماڼیو ته اړتیا نه لري: بسنه کوي چي دزړه پټې،مځکه دي پراخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځنګه ژوندوکړ؟

**هغه دښمن چي په ربښتيني ډول رخه درسره لري دهغه دوست څخه غوره دئ چي په درواغو د ګرنښت اظهار درته کوي.**

*******

**ترټولو عالي توپير د خوشبختی او خوند ترمنځ دادئ چي خوند مايع دئ او خوشبخي جامد .**

*******

**هغه خبري چي دزړه څخه را پورته کيږي، هيڅ وخت نه بيانيږي،په ستوني کي بنديږي او يؤازي په سترګو کي ويل کيږي.**

*******

**وګړي يؤازي هغه څه ويني چي دهغو دليدلو لپاره تيار وي.**

*******

**ځيني وخت يؤه خبره ديؤه وګړي ټول ژمی توده وي او ځيني وخت يؤه خبر ديؤه وګړي ټول ژوند سړوي.**

*******

**که وګړو ته حتا خپلې سترګې هم قربان کړئ، په اخر کي به ووايي، د اول څخه ړوند وو.**

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

نړۍ دومره پراخه ده چي دټولو مخلوقاتو دپاره ځای پکښي سته، ددې پرځای چي دبل چا ځای ونيسې: کوښښ وکړه خپل حقيقي ځای پيداکړي.

***

نرمي د تاوتريخوالي څخه ځواکمنه ده، اوبه د تيږې څخه پياوړيدي او محبت د بې رحمۍ څخه قدرت مند دئ.

***

هغه خبرې چي اورې دېر پام مه ورته کوه: کيدای سي د داسي خولې خبرې وي چي مخکي در خبرو يې په هغوئ کي اند نه وي کړی.

***

99سلنه ماته خوړونکي هغه وګړي دي: چي تل خپل ځانته بهاني تراشي.

***

کله چي دوښمن دي ستا بد وايي، دوست يې تاته خبر راوړي، وهيږه چي دوست او دښمن دي تاته په زيان در رسول کي سره يؤ لاس سوي دي.

***

کوښښ وکړه ماته په زړه کي ځای راکړې: دانسانانو په يادښت په باور نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**چاچي خپل ایمان وساتئ هیځ خپله هیله دلاسه نه ورکوي.**

*******

**حرام یؤازي په خوړلو کي نه دي: دخلګو ناموس ته کتل هم حرام دي،غیبت کول، فحش،درواغ ویل...**
**هم حرام دي.**

*******

**نه غواړم ورسته در مرګ پر چا ګران سم.**

*******

**ترټولو بدبخت کسان هغه وګړي دي چي: دخپلو ګټو په خاطر نه حق خبرې کوي، نه حق خبرې اورې تردې چي حق ویني هم نه.**

*******

**لږ باور وکړه، تریؤ ورځ اړ نه سي کوم چاته ووایي ستا څخه مې دا هیله نه درلول.**

*******

**کله چي دنورو د ژوند تریخوالی خوږوئ وپوهیږه چي ژوند کوئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

دري شيان بې ګټې دي:
احمق ته نصحت کول.
دمنافق سره دوستي کول.
دناپوه سره بحث حول.
***

خبرې کول پوهه غواړي مګر چوپتيا شعور غواړي.
***

دوهيواد په قدر يؤازي يؤ مهاجر ښه پوهيږي.
***

خدايه پاکه هرڅوک چي څه زما لپاره غواړي لومړی يې هغه ته ورکړې.
***

يؤازيتوب دهغه کس سره دراوسيدلو غوره دئ کوم کس چي ستاسو زړه دشک او زړه نازړه توب څخه ډک کوي.
***

د دوست لپاره ځان قربان کړه مګر دوست دي د دوښمن څخه بيل کړه.
***

ترڅو چي دي زه نه يم پيژندلی زما په اړه پريکړه مه کوه،
ترهغه وخت چي زما سره نه يې مخ سوی کم مې مه ګڼه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

درهغه وخته چي ماته دې خپله خبرې نه وي کړي درشا خبرې مه راپکښي کوه.
***

دخپلوان رخه د دښمن د رقابت څخه بده ده.
***

دنورو سره دخیانت کولو په قیمت نه سي کولی ځان ته خدمت وکړي.

***

ترټولو بد ظلم چي دوګړو په حق کي یې کولی سي دادئ چي ښه وګړي دښوو کولو څخه پښیمانه کړي.
***

دکمزوري هوډ پایله خبرې دي او دپیاوړي هوډ پایله کار.
***

لکه څنګه چي ناپاک خواړه معده ناروغه کوي: همدغه ډول ناپاکه اندونه او خبرې ذهن ناروغه کوي.
***

انسان یؤخت په یؤ کس پسي دومره خپه وي که چیري هغه ددې خپګانه خبر سي وبه شرمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**کوښښ مه کوه یؤه خره ته غزل ویل ورزده کړي: په دې کار سره هم خپل وخت بربادوي او هم خر په تکلیف کوي.**
*******

**ظالم اوسیدل بیلا بیلو ډولونه لري ځیني وخت د ترحم او ځیني وخت دبې تفاوتی په ډول خپل ځان څرګندوي.**
*******

**دوه شیان دي چي انسانیت دانسانانو په بدن کي لمنځه وړي: فریاد هغه وخت چي باید چوپ وای، چوپتیا هغه وخت چي باید فریاد یې کړی وای.**
*******

**که دې ته فکر کوي چي نور تاته څنګه فکر کوي: یا دنورو څخه بیریږي یا پر خپل ځان باور نه لري.**
*******

**مړکیدل کومه خبره نه ده بلکي ژوند نه کول بیرونکي دي.**
*******

**یؤ زده کړه کونکی ناپوه دیؤه بې سواده ناپوه څخه ډېر ناپوه دئ.**
*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړو؟

**کولی سي ګل درپښنه لاندي کړي، مګر دهغه خوشبو نه، کولی سي یؤ ملت لمنځه یؤسي مګر دهغوئ تاریخ او تمدن نه.**
*******

**دفساد اخري درجه دقوانینو څخه دظلم لپاره کار اخیستل دي.**
*******

**دکتاب پاڼې د وزرونو په شان دي چي زموږ روح دروښنایې نړۍ ته الوزه وي.**
*******

**هغوئ چي هیله لري دکال څلور موسمه دي دپسرلي وي: نه خپل ځان پیژني، نه طبیعت اونه هم ژوند.**
*******

**که کمزوري، ناتوانه ته په غوسه سوي: دلیل یې دا دئ چي پیاوړی نه یې.**
*******

**په آسانۍ سره کولی سي وپوهیږي څوک پر تا حکومت کوي، وګوره دچا پر وړاندې انتقاد نه سي کولی.**
*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

دهغو ناپوهانو آزادول سخت دي چي دخپلو ځنځیرونو درناوی کوي.

***

څوک چي غواړي کوم کار سرته ورسوي لاره ورته پیدا کوي او څوک چي نه غواړي سرته يې ورسوي بهانه ورته پيدا کوي.

***

ډېربنه چي دومره ژر دي راته دا وښودل چي دهيڅ شي ارزښت نه لري مننه کوم.

***

غرور هغه ويې دئ چي انسان دښو دوستانو څخه بيلوي.

***

الله جل جلاله هيڅ قلف دهغه دکيلۍ څخه بغير نه دئ پيدا کوي، هيڅ ستونزه ببله دهغې دحل لارې ستاسو په لار کي نه پيدا کوي: پرهغه باور ولرئ.

***

کيدای سي څه ګرانه تمامه سي: مګر دوګړو پيژندل دنړۍ تر ټولو ارزښتمنه تجربه ده.

***

په ژوند کي هيڅ شی ددې څخه غوره،ارزښتمن او ګران نه دئ چي زړه مو ارامه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**الهي زموږ زړونو ته... تل سکون راکړي.**

*******

**دالله ﷻ شکر ادا کړه څکه چي هغه مهربانه،نعمت درکوونکی،ستاپیداکوونکی،رزق ،روغتیا درکوونکی دئ او محبت به يې دتل لپاره شتون ولري!**

*******

**لوی هغه دئ چي لوی زړه ولري که داسي نه وي پيسې خو فقير،غل چم کوونکی، فريب کوونکی او نامر هم لري.**

*******

**د دوستی،ګرانښت او ملګرتيا ښکلا ديؤبل دخبرو زغمل دي.**

*******

**د سخت زړو وګړو سره مهربانه واوسئ څکه هغوئ در هرڅه ډېر میني ته ډېره اړتيا لري.**

*******

**ما خير په صبر کي وموندئ.**

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**دنن ورځي ځيني وګړي دشرموښ ،ليوه سره ورى خوري او د شپون سره ژاړي پام مو وي.**
*******

**تاسو هيڅ وخت خپل کور ته غل نه پريږدئ،ښه نو څنګه هغو فکرونو ته اجازه ورکوئ چي ستاسو خوښئ غلا کوي.**
*******

**احمقان داسي پيژندل کيږي هرڅومره چي هغوئ ډېر درناوى کوئ هغومره ډېر مغروره او متکبر کيږي.**
*******

**توحيد نجات،خلاصون دئ:**
**په غار ثورکي {اِن اللہ مَعَنَا}**
**دکب په خيټه کي{لَاَ اِلَہَ اِلَا أَنْتَ}**
**په زندان کي{ مَا کَانَ لَنَا أنْ ُنشْرِ يکَ}**
**په کهف کي {لَن نّدْ ُعوَ مِن ُدونِہِ اِلَھًا }**
*******

**نا پوه هغه څوک دئ چي د فقر سره ژوندوکړي او په شتمنئ کي مړ سي.**
*******

**ناوخت به پوه سي يؤازنى هغه څوک چي غوښتل يې چي ته دهغه څخه ښه واوسي هغه ستا پلار وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

وګړي تل دهغه ځای څخه لوېږي چي پر هغه يې تکيه کړي وي.
***

هرڅوک يؤازي هغه څه اوري چي په پوهيږي.
***

ستر الله جل جلاله دسختيو،
تنګلاسيو ورسته هوساينه،رحت را ولي:
{سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا }
(سُوْرَةُ الطَّلَاق 7)

***

داښه ده چي يؤ وګړی تند،تېز او رښتنئ وي مګر نه مهربانه درواغ ويونکی.
***

که غواړي راز دي ددوښمنانو څخه پټ وساتي هيڅکله يې دوستانو ته هم مه وايه.
***

کاش هيڅکله هغه هيلې چي دنورو څخه يې لرم خرابي نه سي.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

ډېر تاوان کوونکی هغه څوک دئ چي ګومان کوي: الله جل جلاله به بخښنه ورته ونه کړي.ابن رجب
***

هیڅ وګړی دومره شتمن نه دئ چي وکولی سي خپل تیر ژوند رانیسي.
***

په دې نړۍ کي په هیڅ پوري ځان مه تړه، دتیارې په وخت کي دي خپل سایه هم پر یږدي.
***

رښتنی دوست هغه څوک دئ چي ستاسو په اړه په هرڅه پوهیږي خو بیا هم تاسو ورته ګران یاست .
***

موږ احمق وګړي نه وو، ساده وګړي وو او دخپلې سادګۍ له مخي مو احمقانو ته اجازه ورکړل چي زموږ په ژوند کي دخالت وکړي.
***

کله چي دي زړه زما سره نه وي شتون دي ستونزه نه حل کوي یؤازي مي زړه تنګوي.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**ستاژوند هغه وخت ښکلی او خوږ کېږي کله چي ستاسو:**
**خيال او ګومان،**
**چار او چلند،**
**خبرې او ويل،**
**نيک او ښکلي وي.**
*******

**توحيد د دين اصل او دشريعت بنسټ دئ،دټولو اعمالو ستر او غوره دئ،ټول نيک کارونه بيله توحيده نه صحيح کيږي،دهر نيک کار، عمل سره چي توحيد مل نه وي هغه بې ګټې دئ.**
*******

**ښځې مه په غوسه کوئ،کله چي ښځې په غوسه کېږئ بدني پياوړتيا يې لمنځه ځي او ژبنۍ پياوړتيا يې ډېرېږي،ټول هغه بد چي مو په خپل عمر کي ورسره کړي وي: په يوه دقيقې کي يې ستاسو مخته ږدي.**
*******

**ته نه سي کولی يو څوک اړ کړي چي سم چلند وکړي،مګر کولی سي داسي چلند وکړي چي هغه هيله وکړي: ای کاش چي ښه چلند مي کړی وای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**د ژوند پایله هغه شیان نه دي چي را غونډوو یې،بلکي هغه زړونه دې چي ځانته یې را جذبوو.**
***

**باید دومره اصیل و اوسي چي: د نورو دردونه دي غمجن او خوښۍ دي خوشحاله کړي.**
***

**هیڅ وخت ددې لپاره چي دیؤ ډلې په رنګ سي نقاب مه پر تن کوه!**
**زړور اوسه!**
**ځانګړی اوسه!**
**خپله اوسه!**
***

**یؤازي ځیني وګړي باران احساسوي،نور وګړي فقط لانده کیږي.**
***

**هردرد ډېر یا لږ وي، که لږ وي په آسانۍ زغمل کیږي، که سخت وي ببله شکه لنډ به وي.**
***

**په خپل درد کي مه ورکیږه وپوهیږه چي یؤه ورځ به ستا درد ستا درملنه کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**هیڅ وخت لویوالي ته نه رسیږي تر څو دهغه پر لار ډېر زحمت ونه ګالي.**
*******

**هیڅکله دځان ستاینه مه کوه پریږده چي نور دي ستاینه وکړي.**

*******

**ډېر اسغفار ویل:زړه پاکوي، انسان لوړ وي،ګناهونه په بخښل کیږي او رزق ډېره وي.**
*******

**دا اړینه نه چي څه احساس لري، ولاړ سه جامي دي واغونده، دندو ته دي دوام ورکړه او هیڅکله مه تسلیم کیږه.**
*******

**دسمندر په څیر واوسه چي:ځیني ستا سره په ملتیا خوند واخلي او ځیني چي ستا دلیدلو توان نه لري؛ غرق سي.**
*******

**څوک چي داخوښوي چي دمرګ ورسته یې عمل قطعه نه سي، پوهه دي خپره کړي.**
*******

**دوږخ ته ډېر موحدین دوګړو دحقوقو په خاطر داخلیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**هر ځل چي مې غوښتي يؤ چا ته نيژدي سم، دخپل ځانه ډېر ليري سوی يم.**
*******

**ژوند ډېر جدي مه نيسه ځکه هيڅکله دهغه څخه ژوندی نه سي تللی.**
*******

**پښيمانيې مانا نه لري، هر تصميم چي دي پخوا نيولی وو، هغه ښه تصميم وو چي په هغه وخت کي مو کولی سوای وي نيسئ.**
*******

**څه ترخه درمل دي:**
**دخاين سره وفاداري.**
**د درواغجن سره رښتينولي.**
**د کلک زړي سره مهرباني.**
*******

**وګړي دهرڅه په اړه ږغيږي،په زياته بيا دهغه څه په اړه چي دهغو په اړه په هيڅ نه پوهيږي!**
*******

**ته بختور يی!**
**ته همدا اوس دزرګونو نعمتونو لرونکی يی!**
**الحمدلله ووايه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځنګه ژوندوکړ؟

**انسانان ناخبره نړۍ ته راځي نه احمقان،احمق کيدل روزنې ته اړتيا لري.**
*******

**په کوم کورکي چي لويان کوچنيان سي،کوچنيان يې هيڅ وخت نه لويږي.**
*******

**زه دهغو ځخه چي ډاډ مي ورکوئ ډير غمجن وم.**
*******

**باور وکړه چي دپخوا ځخه لاس وا نه خلي لاس دي وه راتلونکی ته نه رسيږي.**
********

**څومره دهغو ترمنځ چي غواړو يې او څه چي کولی سو سرګردانه يوو**
*******

**دهغه څه لپاره چي باور لرئ ودريږئ حتا که هم دهغه قيمت يؤازي درېدل وي.**
*******

**شتمني په جيب نه ده،انسان بايد شتمن زړه ولري.**
*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

دانسان ترټولو لوی عیب دادئ چي دخپله عیبه ناخبر واوسي مګر دنورو عیبونو ته یې پام وي.
****

کومې پرېکړې چي په غوسه کي کیږي ستاژوند بربادوي.
****

دهغه چا سره پاته کیدل چي ستاسو په ارزښت نه پوهیږي: وفاداري نه ده حماقت دئ.
***

اړینه نه ده چي څنګه ماته دي خوړلي ده، ته تل کولی سي دمخکي څخه ښه ځان جوړ کړي.
****

دمور څخه دي دچمتو کړو خوړو لپاره مننه وکړه، ځیني خواړه نه لري او ځیني مور.
***

باید دومره اصیل و اوسي چي: چي د نورو دردونه دي غمجن او خوښی دي خوشحاله کړي.
***

ډاډه اوسه! هغه ږغ چي دي الله جَلّ جَلالُه اوري نور یې هیڅکله نه سي اوریدای!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**د دوستانو دخیانت څخه مه ناهیلی کیږه ځکه ستا څخه مخ دیوسف علیه السلام ورڼو دهغه سره غداري کړي وه په داسي حال کي چي هغه یؤ نبي وو.**

*******

**ځیني وخت دهغو وګړو لپاره زړه سوځوو چي نه پر خپل ځان رحم کوي نه پر نورو.**

********

**زده کړه هغه پیاوړي وسله ده چي کولی سو دنړۍ دبدلون لپاره دهغه څخه ګټه واخلو.**

*******

**په کیسه کي یې مه کیږي: هغو ته چي زموږ شتون ته پام نه کوي داسي وخت به راسي چي زموږ سیوري پسي به پلټنه کوي.**

*******

**زه هغو وګړو ته چي درناوی نه راته لري درناوی نه لرم، که تاسو دا ځان غوښتنه ګڼي زه یې خپل ځان ته درناوی ګڼم.**

*******

**هیڅ وخت دي دمور دړغ څخه مه ستړی کیږه، یؤه ورځ به راسي چي په هغې پسي به تل خپه یې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**انسان درهغو چي مور لري غریب،فقیر نه دئ.**

***

**دري لمنځه وړونکي کارونه: داندازې څخه ډیر خواخوږي،داندازې څخه زیات باور،داندازې څخه ډیر انتظار.**

***

**دغه دردونه چي احساسوي: پیغام راوړي، هغه واوره.**

***

**د درد درملنه د درد دننه ده.**

***

**که مو وجدان خرڅ کړئ، کولی سئ ډیر شیان رانیسئ... مګر خپله به نورمفت هم نه ارزئ.**

***

**په دې نه یم خپه چي ماته دې درواغ وویل په دې خپه یم چي نور نه سم کولی په تا باور وکړم.**

***

**لکه څنګه چي د خرابو لرګیوڅخه کښتۍ نه سئ جوړولی همدغه رکم په خرابو افکارو تولنه هم نه سئ جوړیدلی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړو؟

**دنفرت،رخې او تعصب څاڅکې په هغه سمندر بدليږي چي ټول غوټه کوي، مګر د درملنې لپاره يې ښه درمل يؤبل منل دي.**
*******

**دهر چا زړه چي دغرور څخه ډک وي؛دمينې دځايولو توان نه لري.**
*******

**دښځې ښکلا دهغې په باطن کي ده نه دهغې په ظاهر کي.**
**دنر پياوړتيا دهغې په ملاترکي ده نه په زوره ږغيدو کي.**
*******

**دزړه در ماتولو ورسته بخښنه غوښتل ګټه نه لري،قبر چي ګل ماله سي دقبر خاوند نه راژوندی کوي.**
*******

**هيڅ وخت نه سئ کولئ د خپلې مور دمينې څخه ډېره او ريښتنې مينه ومومندئ.**
*******

**ځيني وختونه د اندازې څخه ډېر باور کول کيدای سي په ريښتيا تاسوته زيان ورسوي.**
*******

**دچل اوفريب درکولو لپاره ځيني دځانه درته بازان او ځيني خره جوړکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**پام مو وي: حیوان صفته مه کیږئ، بایلونکی بایلونکی وي: څه ښکار کوونکی او څه څریدونکی.**
*******

**ستاسو شکل،رنګ هغه کتاب دئ چي وګړي کولی سي په هغه کي جالب شیان ولولي.**
*******

**پیاوړی اوسه: ژوند دي مور نه ده چي زړه دربانديوسوځوي.**
*******

**داندازې څخه زیاته مینه یۀ ډول ځان وژنه ده.**
*******

**دربښتیا سره مینه ولره مګر خطاوي وبخښه.**
*******

**تل هغه خبرې وکړه چي کولی سي وي لیکي،هغه څه ولیکه چي کولی سي لاسلیک یې کړي او هغه څه لاسلیک کړه چي کولی سي دفاع تري وکړي.**
*******

**دشخصیت سادګي داند دپیچلتیا پایله ده.**
*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**شعور یانې داچي درهغه ډېر چي درک سو، درک يې کړو.**
********

**ديؤې ښځې وفاداري  هغه وخت څرګنديږي چي خاوند يې هيڅ ونه لري او ديؤه نر وفاداري  هغه وخت څرګنديږي چي هرڅه ولري.**
*******

**که مو کوم څوک وليدئ چي درک او پوهه يې د پيژندل سوي پولې څخه ډېر وه، حتمن دهغه څخه وپوښتئ چي کوم کتابونه لولي.**
*******

**دلويولي څخه ساده شی نسته، بلې سادتوب همدا لويوالی دئ.**
*******

**دري شان پرځای،ثابت نه پاتيږي: شتمني بيله تجارته،پوهه بيله بحثه او هيواد بيله سياسته.**
*******

**څومره دګرنښت وړ هغه وګړي دي چي ستاسو خبرو په شان وي.**
*******

**ښه خبره اوسپنيزه دروازه پرانېزي،خلاصوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**کله چي غواړئ وصیت نامه ولیکئ: پام به موسي، یؤازنی څوک چي ستاسو په شتمنئ کي ونډه نه لري، هغه به تاسوخپله یاست،ښه نو څومره چي کولی سئ دژوند دنیکو کارونو څخه خوندواخلئ.**

*******

**ډېر ژوند کول دېولو هیله ده مګر ښه ژوند کول دلږشمېروګړو.**

*******

**ژوند همدا دئ چي انسان دهغه چا دراتلو انتظار کوي چي هیڅکله به را نه سي.**

*******

**ځیني وخت دخپل ژوند څخه دځینو وګړو ایستل دنورو ښو وګړو لپاره ځای خالي کوي.**

*******

**په نړئ کي داسي خوند چي د کتاب لوستني دخوند سره برابر وي شتون نه لري.**

*******

**شعور بیلابیل پړونه لري،ترټولو لوړ پوړي یې بې شعورو ته پام نه کول دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**ځومره سخت دي دټولنې په رنګ کيدل، کله چي ټولنه خپله په زره رنګه وي.**

*******

**دهغه چاسره پاته کيدل چي په درناوی مونه پوهيږي: وفاداري نه حماقت دئ.**

*******

**کبان خپلې اوښکې نه سي ليدای،ليوان خپل خوبونه نه سي ليدای،بازان خپل را لويدل او انسانان خپل دننه نه سي ليدای.**

********

**که د رانيولو وای رانيول مي؛ دمور لپاره مي روغتيا، دپلار لپاره مي دويم ژوند او دځان لپاره مي دکوچنيوالي خنداګانې.**

********

**که تيرسوي ږغونه تا تير ژوند ته را وبولي پوه سه چي يؤازي يی.**

********

**ته نه يې دا باران ځومره بې ځايه اوري.**

*******

**هغه بدلون واوسه چي غواړې په نړۍ کي يې ووينې.**

********

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړو؟

کله چي کومې ټولنې ته ننوځي ستا جامي ستا پيژندنه وي اوکله چي تري وځي ستا خبري او اندونه ستا پيژندنه وي.
***

دريمه نړۍ هغه ځای دئ چي خلګ يې ديؤې ښې ورځې راتلو په هيله دي، نه دراوستلو.
***

ځيني وخت چي هيڅوک ونه لري ښه دئ،باور وکړئ ځيني مو ترټولو يؤازي کوي.
***

سياست مداران که په خپلو کي سره يؤ سي زموږ شتمني غلا کوي او که اختلاف ته ورسيږي زموږ ژوند غلا کوي.
****

حکمت هغه ونه ده چي ريښې يې په زړه کي وي او ميوې يې په ژبه کي.
****

ځيني وخت بايد خپل شاوخوا وګرو څخه ليري سي دځينو څخه يؤ ساعت او دځينو څخه يؤ ژوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**يؤ پوه وايي؛بخښنه په وار وار وکړه مګر باور يؤځل.**
********

**ومي غوښتل ژوند وکړم: تولې لارې يې راته وتړلي:**
**شکر مي وکئ، وي ويل خرفات دي،**
**عاشق سوم: وي ويل درواغ دي،**
**ومي ژړل وي ويل:بهانه ده،**
**ومي خندل: وي ويل ليونی دئ**
**نړۍ ته ګورئ،غواړمه پياده سم.**
*******

**زما په رګونو کي دوينو پرځای دهغه اندونه اوخيالونه روان دي.**
*******

**خوښي ځای او وخت نه غواړي،دابسنه کوي چي زړه يې وغواړي.**
*******

**دخپلو هيلو لورته دي وزرونه وه غوړوه، بهانې نه.**
*******

**قضاوت او مخکي خبرې دا نه په ډاګه کوي چي هغه څوک دئ، بلکي دا په ډاګه کوي ته څوک يی.**
*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**دبریالیو وګړو لپاره په اونۍ کي اووه نن ورځې شتون لري او دناکامو وګړو لپاره اووه سباوي، کوچني توپیرونه،لویي پایلي لري،ژوند همدا نن ورځ دئ.**
*****

**واده کول او نه کول دواړه دپښیمانۍ سبب کیږي.**
*****

**دا زورونکې ده چي کله دي دهسک هوا دسر سره ومښلي او وزرونه ونه لري.**
*****

**په کوم ځای کي چي یې:**
**که دي نه خوښیږي کوښښ وکړه ځای ته دي بدلون ورکړه،نوې ونه نه یې چي نه سي کولی حرکت وکړي.**
*****

**دیوه شي څخه ډاډه یم، هغه داچي په ژوند کي مي هیڅوک دومره نه دئ زورولی لکه ځان.**
*****

**دهغو ټولو وګړو لپاره دښو هیله کوم چي بدې یې لیدلي مګر هوډ یې کړی چي بد ونه اوسي.**
*****

**ژاړا ټوله اوري، اره هنر دچوپتیا دړغ اوریدل دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

دهرچا څخه دهغه دشعور په اندازه هيله ولره، لږ ترلږه په دې ډول به لږ وکړيږي.
***

ډېربده ده کله چي ديؤچا کار ستاسو سره خلاص سي چلند يې بدلون وکړي.
***

هروخت د مخامخ کس پر وړاندي چوپتيتا دهغه دخبرو دتاييد په مانا نه وي،ځيني وخت دهغه دشعور دسطحي څخه هيله نه لرلو په مانا وي.
***

انسانان هغه وخت ښه زړه لرونکي دي چي وکولی سي دنور دنېکمرغه ساتني لپاره عملً لاس په کار سي، نه داچي دنور لپاره يؤازي دنيکمرغئ هيله وکړي.

****

ښه انسان و اوسه مګر نور ته په ثابتولو يې وخت مه بربادوه.
***

يؤ بنده ته اړتيا لرل دمرګ دويم نوم دئ. ***
کله چي فقر پر دروازه را ننوزي عشق د کلکين څخه تښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**باور دي دخپل ځان سره وساته مګر انسانيت دي وټولې نړۍ ته وښيه.**
*******

**ژوند ددې لپاره چي يؤ وار مينه در سره ولرم: ډېر لنډ دئ،قؤل کوم چي په راتلونکي ژوند کي به دي هم خواکي اوسم.**
*******

**وګړي هيڅ وخت هغه کسان چي پر ګران وي نه هيروي، يؤازي عادت کوي چي نور يې خواکي ونه اوسي.**
*******

**هغه وګړي چي په خپله خوښه په تاريکۍ کي کښينستلي دي؛ روښنايي ته اړتيا نه لري.**
*******

**که غواړي دمرګ ورسته هير نه سي،داسي څه وليکه چي د لوستلو وړ وي يا داسي کار وکړه چي دليکلو وړ وي.**
*******

**او دهغه کس سره چي مينه لري، هغه ته يې مګر بل ځای.**
*******

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځنګه ژوندوکړ؟

**سلام پرهغو چي موږ يې نه وو ليدلي وي پيژندلو،نه يې وو لوستلي را پوه سول، او په غيږ کي نه وو نيوالي،پر ګران سولو.**
***

**هيڅ  وخت يې دپوهيدلو لپاره مه ژاړی،هغه چي په تاسو پوه سي ستاسو دچوپتيا ږغ بنه اوري.**
***

**زرګونه دوښمنان بخښنم مګر  هغه ځوک چي زړه مې ورکړی وو او  هغه بې ارزښته وګڼي او را مات يې کړ، نه سم کولی وي بخښنم.**
***

**هيڅ شی بيله غره پلارته ډير ورته نه دئ.**
***

**ديؤه وګړي سره ديؤه ساعت لوبې په کولو کولی سي دهغه په اړه ديوکال د اوږدو په اندازه مالومات لاسته راوړي.**
***

**زما ترټولو لوی افسوس پرهغو ناسموکارونو نه دی چي ماکړي بلکي پرهغو سمو کارونو دئ چي دناسمو وګړو لپاره مي سرته رسولې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځنګه ژوندوکړ؟

**زموږ ستونزه دهغه ځای څخه پیل سول،چي زموږ کتل یؤبل ته، کتل دانسان وه انسان ته نه وه بلکي کتل دانسان وه موقیٍ ته وه.**
*******

**کله چي ستاسره خیانت کوي، هغه وخت یې خپل بازوګان پري کړل،کولی سي هغه وبخښي؛مګر نه سي کولی په غیږ کي یې ونیسي.**
*******

**څه د ډېري زړه دئ دهغه موړ؛ چي وږي ته نصحت کوي، ترڅو دلوږې درد وزغمي.**
*******

**کله چي سهار دخوبه راکښینئ، دا په فکر کي راولئ: څومره لویه نیکمرغي ده،ژوندي پاته کیدل،اند کول،خوند اخیستل، د دوست درلودل.**
*******

**ناپوه کس پوه نه زده کوي ځکه خپل ځان پوه ګڼي، دناپوهه وګړو بد بختي همداده.**
*******

**وي پوښتل چي څه پرمختګ مي کړی؟**
**ومي ویل: چي دخپل ځان ملګری سوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

وګړي باید دهغوئ په چارو کي وازمویې نه دهغوئ په خبرو،ډېروګړي بدچار کوونکی او ښې خبرې کوونکي وي.
***

ځیني وګړي نه تکرایږي، څوک چي درباندي ګران وي، تل یې خواکي اوسه او ساتنه تري کوه.
***

ډېرکله عقل هغه وخت دانسان سر ته رادرومي چي ډېر ناوخته وي.
***

دعشق لپاره مبارزه وکړه خو هیڅکله فقر مه کوه.
***

ترټولو ډېر قدرت چي یو وګړی لري دهغه دانتخاب قدرت دئ.
***

که چیري دحقیقت رښتنی پلټونکی یې، باید لږ ترلږه په خپل ژوند کي یوځل پر هر شي شک وکړي.
***

رقابت در هغو ښه دئ چي کار حسادت ته ټیل نه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**دښنو کتابونو لوستل دپخوانیو عزتمندو وګړو سره خبرې کول دي.**
*******

**که دا خوښوي چي نېکمرغه و اوسي دهيڅ چا سه دهيڅ تمه مه کوه.**
*******

**کله چي دا دي خوښه وګڼل چي دکوم چا سره خيانت وکړي، هغه وګړی ناپوه مه ګڼه،بلکي پوه سه: هغه ددې څخه ډېر چي ته يې ورې يې په تا باور کړی دئ.**
*******

**پخوالي ته نه يې رسيدلی مګر هغه وخت چي احساس کړي خبرې درسره ډېرې دي، مګر اړينه نه ګڼي چي چاته دهغوئ څه ووايي.**
*******

**انسانان دوه ډله دي: يو هغه چي تاريکئ کي بيداره وي، دويم هغه چي په روښنايې کي بيده وي.**
***********

**مئين کيدل آسنه دي، سخته داده چي تا درک کړي.**
********

**پيسې دټولو ناروا مخ پوښي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

دکتاب پاڼې د وزرونو په څیر دي چي زموږ روح ته د رڼا عالم ته الوزوي .

***

ځیني وايي: درواغ د ډېرو جداییو لامل دي مګر نه دا رښتیا دي چي انسانان دیؤبل څخه لیري کوي.

***

شپبې په خاطرو بدلیږي او وګړي په درس: دا ژوند دئ.

***

لږ دي هغه وګړي چي په سترګو وینې او په مغزو اند کوي.

***

زه پوره نه یم مګر تل به رښتنی یم.

***

هر زړه چي پاک وي ډېره مینه کوي، ډېر باور کوي،ډېره بخښنه کوي او ډېر زیان وینې.

***

هیڅ شی دانسان روح داسي نه وژني لکه ناسم، غلط ځای او ناسم وګړي.

***

شرفت لرونکی هغه وګړی دئ چي دنورو په عزت داسي ویوهیږي لکه خپل په عزت.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**په ځوانۍ کي ژوند په ناخبرۍ کي راباندي تيرسو هغه چي پاته وو په پښيمانۍ کي راباندي تيرسو.**
***
**کوم وګړی چي تيروتنه نه کوي هيڅ کار سرته نه سي رسولۍ.**
***
**خپل وخت دهغه چا لپاره مه بربادوه چي ارزښت يې نه لري.**
***
**کوم وګړي چي يؤپربل ګران وي حتا دچوپتيا په وخت کي هم يؤ بل درک کوي.**

****
**ارام والی او ليدل بايد زده کړو هر څه زموږ غبرګون ته اړتيا نه لري.**
***

**ژوند ماته زده کړل چي هرکله دهغه چا داحتمالي بريد منتظر و اوسم چي دهغه سره مي ډېر ښه کړي وي.**
***
**يؤ وحشي ژوی نه سي کولی: داسي په هنر مندانه ډول ډېر زړی سي لکه يؤ انسان چي کولی سي.**
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځنګه ژوندوکړ؟

**هغه که په سمندر کي وي، که په خوبو کي وي،که په درواغو کي وي،که په ګناه کي وي،که په خوښۍ کي وي، که په قدرت کي وي،که په ناپوهۍ کي وي، که په انکار کي وي،که په رخه کي وي، که په بخيلتوب کي وي، که په غچ اخيسلتو کي وي.**
***

**دژوند بده برخه انتظار کول دي او ښه برخه يې دهغه چا درلودل دي چي دانتظار کولو ارزښت ولري.**
***

**مه پريږدئ خښتم، قهر ستاسو ټول بدن ونيسي،تاسو ته ازار درکړي يا تاسو ته زيان ورسوي، قهر يؤازي ستاسو انرژي اخلي او دنورو وګړو سره مو دګرنښت او محبت مخه نيسي.**

***

**در هغو چي دخپلې مور خندا ويني ژوند ښکلی دئ.**
***

**نيکبخته هغه وګړی دئ چي: دژوند ستونزو او کړاونو ته مسکا وکړي.**
***

**زموږ دګوتو نښي دهغو زړونو څخه چي: لمس کړي يې، يوو هيڅ وخت نه پاکيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**عاقل،پوه دپوښتنو څخه ډک وي او ناپوه دځوابونو څخه.**

********

**سترګې بې ګټې دي کله چي وجدان ړوندوي.**

**وجدان: هغه باطني ځواک چي ښه دبد څخه بیلوي.**

*******

**خپل دماتو په کیسه کي مه اوسه کله چي بریالی سوي خاطرې کیږي.**

*******

**څومره ډېر چي وګړو ته خپل احساسات وایې:هغومره ډېرې لارې وګړو ته ښیې چي تاته زیان ورسوي.**

********

**وفاداري ډېره اړینه ده کله چي ودي موندل دلاسه یې مه ورکوه.**

********

**یوٌ اړین شی چي مې زده کړی هغه دادئ چي: هر وګړی زړه لري مګر وجدان دهر چا نه په برخه کیږي.**

********

**که تکلیفونه ونه زغمي هیڅ وخت به زړور نه سی،**
**که تیروتنه ونه کړي هیڅ وخت به عاقل نه سي او که**
**ماته ونه خوري هیڅ وخت به بریالی نه سي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**زموږ مرګ دهغې ورځې څخه پیل کیږي چې دهغه څه پروړاندي چې اړین وو سکوت وکړو.**
*******

**امیدونو زموږ دزړونو سره دومره خیانت کړی: کله چې هم کوچنیو خوښیو ته رسیږو، سترګې مو دغم د راتلو انتظار کوي.**

*******

**تاسو نه سئ کولئ ټوله په شتمنۍ خوښ کړئ، مګر کولئ سئ ډیرو زړونه په نیکو اخلاقو خپل کړئ.**
********

**دیخي څخه یې وپوښتل:ولې دومره سوړ یې؟**
**یخي ښه ځواب ورکړ: زه لومړی هم اوبه وم او ورسته هم اوبه دتودخې یې زما سره څه؟**
**ښه نو ای انسانه!**
**لومړی هم خاورې وې او ورسته هم خاوري: ستا دا دومره غرور دکومه !**
*******

**اوس مي هم ځیني وخت زړه تنګ سي خو ستالپاره نه دهغه وګړي لپاره چې اند مي کوئ ته یې.**

**ژوند هیڅ چا ته مفت درس نه ورکوي! کله چې وایي: ژوند ماته را وښول یاني تاوان،قیمت یې هتمن ورکړی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

کوښښ مه کوه بریالی وګړی واوسي کوښښ وکړه ارزښتمن انسان واوسي.

***

یؤه ورځ به دي ټولې هغه لارې چي زړه ته دي تللې وي: عقل  ته را وګرځي.

***

زده کړه ترټولو پیاوړي وسله ده چي، کولی سي دنړۍ دبدلون لپاره،دهغې څخه ګټه واخلې.

***

ستاسو ترټولو لوی دښمنه ستاسو ناپوه دوست دئ.

***

که یؤ وګړي زه یؤ وار تیر ایستلم هغه دي وشرمیږي او که چیري یؤ وګړي زه دوه ځله  تیر ایستلم زه باید وشرمیږم .

***

که دځینو لپاره دځانه پول جوړ کړو بیا به هم وایي چي هوار نه وو.

****

هرڅومره چي دي په زړه کي رخه او حسد لږ وي: هومره به دي په ورځنیو خوښیو کي ونډه ډیره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځنګه ژوندوکړ؟

**هرکله چې دي ونه سوای کولی تیروتنه وبخښي دا ستا دزړه پر کوچنیوالي دلالت کوي نه دهغې تیروتنې پر لویوالي.**

*******

**تعصب:**

**سترګي ړندوي،**

**غوږونه کاڼه کوي او عقل منجمد کوي.**

*******

**ټول یؤازي ستا سره همدردي کوي ای کاش یؤ څوک پیدا سوی وای، چي په ربښتینې ډول یې ویلي وای: بي غمه اوسه...**

**په دواړو یې سمووو.**

*******

**زموږ اصلي مځکه دهغو کسانو زړونه دي چي دهغو سره علاقه لرو.**

*******

**عقل چي نه وي ځان په عذاب وي مګر شعور چي نه وي نور په عذاب وي.**

*******

**موږ یې باید زده کړو چي په خوښۍ کي باید علت و اوسو نه شریک او په غم کي باید شریک واوسو نه علت.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**زه بریالی سم اوس نه مګر حتمن.**

*******

**زما څخه مه په ازار کیږه: زه نه مغروره یم نه بې احساسه، یؤازې زوریدلی یم، زوریدلی دبې ځایه باور څخه.**

********

**باور لرم: چې لوړ اواز سره به درواغجن وګړی ربښتینی وګړی چوپ کړي،مګر د ربښتیني انسان چوپتیا به د درواغجن انسان بنسټ لمنځه یوسي، هو همدا دچوپتیا ډالی ده.**

********

**هیڅ لوی شی په ناڅاپي ډول نه جوړیږي.**

*******

**څوک چې دظلم پروړاندې نه سره یؤځای کیږي، دظالم په زندانونو کې به پرلپسې دیؤبل سره ووینې.**

*******

**کله چې خپله اړیکه دالله جل جلاله سمه کړو: الله جل جلاله هرشی زموږ لپاره سموي!**

*******

**سل ځله مې ورته وویل زما دخبرو په منځ کې مه خانده: یؤځل یې وخندل پر عاشق سوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

صبرکوونکی اوسه: ځيني وخت بايد؛دژوند د ترټولو بدو ورځو څخه تيرسي؛ترڅو ترټولو ښو ته يی ورسيږي.
****

هيڅ وخت دنور دژوند ظاهر،ښکاره دخپل ژوند دباطن سره مه پرتله کوه.
***

خبره کي دزړه څخه راووځي زړه ته هم داخليږي، که داسي نه وي هيله مه لرئ چي اغيزه دي وکړي.
****

هرڅوک چي ديؤ شي څخه وبيريږي دهغه څخه تيښتي،مګر هرڅوک چي دالله ﷻ وډار سي هغه ته پنا ورورېږي.
*******

څهره پرست:دپاک زړه په ارزښت څه پوهيږي.
***

دستونزو او مصيبتونو په وخت کي دي الله جل جلاله ته په صبراولمناځه سره پنا يوسه
****

لويه شتمني دهغه چا درلودل دي:چي تاسو ته سکون درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**ټول پوهیږي چي ژوند وکړي،**
**مګر ټول نه سي کولی ښکلی ژوند وکړي:**
**ژوند کول عادت دئ مګر  ښکلی اوسیدل فضیلت**
**********

**که غواړي بریالی سي،**
**یؤه قانونه ته درناوی ولره:**
**هیڅ وخت خپل ځان ته درواغ مه وایه.**
*******

**دهسک درچتر لاندې دهیڅ چا؟ ناکامې اوماته زموږ په ګټه نه ده.**
**ښه زړه لرونکي واوسئ.**
*******

**هلته پاته سئ:چیري چي ستاسو زړه خندا کوي.**
********

**کلونه وخت یې ونیوئ چي پوه سوم:**
**غرور دانسان ستر دښمن دئ،**
**روغتیا لویه شتمنې ده،**
**ارام او سکون ستر نعمت دئ.**
*******

**غم دژوند یؤه برخه ده،مګر دغمخور نه درلودل ستر عذاب دئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**وريځې پر هسک تکيه کوي،ونې پرمځکه او انسانان ديؤبل پر مهربانۍ.**

**ژباړه**

**دغريبو وګړو سره داسي مخامخ سه:لکه**

**دپا چا سره چي مخ کيږي!**

*******

**زما ستونزه دهغه ځای څخه پيل سول چي دخبرو او دريدلو پرځای مي:تېښته کول او هيرول انتخاب کړل.**

*******

**زما چلند ستاسو سره سوړ نه دئ:تاسو د چاپلوسانو سره عادت سوی ياست.**

********

**اعتماد نه کول مي دهغو وګړو څخه زده کئ :چي پرهغوئ مي بشپړه باور اعتماد درلودئ.**

*******

**انسانان څلور ډوله دي:**

**1:ژر غوسه کيږي او ژرپخلا کيږي (دزغم وړ)**

**ژره نه خپه کيږي اوژر نه پخلاکيږي (تقريبً دزغم وړ)**

**ژر خپه،غوسه کيږي او ژر نه پخلاکيږي (دزغم وړ نه دي)**

**ژر نه،غوسه، خپه کيږي او ژر پخلا کيږي (دستايلو وړ )**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه ژوندوکړ؟

**هغه وخت چي يؤسړی يؤ حرام درهم پرېږدي دده داکړنه ده ته درهغه چاچي سل زره حرام درهمه خيرات کړي ښه اونيکه ده!**
**مالک بن دينارحمه الله**
*******

**دونيا ځای د"نيک"چار ده او اخرت ځای دورکړي دئ:که چادلته نيک چار ونکړ هلته به پښيمانه سي!**
**احمد بن حنبل رحمه الله**

**داخرت مهر آسانه،لږدئ دئ:پاک زړه او ذکر کوونکي ژبه!**
**ابن الجوزي رحمه الله**

**که چا صبر او يقين ورک کړل دهغه چا په شان دئ چي په سمندر کي بيله وړونکي وسيلې سفرکوي**
**ابن القيم**

